# د افغانستان د هم غږي او
# څارونکی هیئت د لومړی مجلس
# په هکله ګډه وینا

جمهوری اسلامی افغانستان　　　　　　　　　　　　　　یوناما

---

## هم غږي او څارني د ګډ هیئت رپوټ
## د ۲۰۰۶ کال د اپریل د ۳۰ د لومړی غونډي په باره کې

نن د افغانستان د تړون لیک لپاره د هم غږي او څارني ګډ هیئت خپله لومړني غونده جوړه کړه. د تړون لیک د پلي کولو لپاره د لوړي کچي نظارت او اړیکه درلودل تامینوي. د دغه هیئت د شتون موده د تړون لیک له مودې سره سم ۵ کاله دي ( د ۲۰۱۱ د مارچ له میاشتي څخه د افغاني کال ۱۳۸۹ ترپایه) پوري دي.

له افغاني لوري دافغانستان دانکشاف د ملی ستراتیجی د څارونکي کمیټي ټول اووه تنه غړي حاضر وو.

د نړیوالي ټولني څخه ټول ۲۱ تنه استازي حاضر وو. هغوي عبارت دي له ټام کوینګز د ملګرو ملتونو د سرمنشي خاص استازي (د ګډ ریاست یو تن) او له افغانستان سره د پراختیایي مرستي شپږو سترو مرستندویانو ( متحده ایالات، برتانیه، جاپان، جرمني، د اروپا اتحادیه او هند) او د دریو ګاوندیو هیوادونو (پاکستان ایران او چین) د دریو سیمه ایزو هیوادونو ( سعودي عربستان، ترکیه او روسیه) د نړیوالو پوځي مرستندویانو (ناتو، کانادا، هالند، ایتالیا او فرانسه،) او دوه نړیوالي مالي موسسي ( نړیوال بانک او آسیایي پراختیایي بانک) استازي وو.

د هم غږي او څارني ګډ هئیت په لومړني غونده کې د هیئت په رول، او د مسؤولیتونو د ساحي په باب ګامونه واخیستل شول چي د افغانستان د تړون لیک په تهیه شوي تعریف باندې ړنا واچول شوه، د وظایفو لایحه چې په دغه غونډه کي وربانديٍ موافقه وشوه له دغه تعریف څخه سرچینه نیسي.

سکتوري مشورتي ډلي په داسي برخو لکه امنیت او حکومت کولو کي کار کوي ، چي د هم غږي او څارني د ګډ هئیت ته به رپوټ ورکوي. د هم غږي او څارني د ګډ هئیت ته د نظارت او څارني لایحي د هري یوي دغي مشورتي ډلي لپاره ورکړي شوي. دغه لایحي هغه وسیلي دي چي د هغو په واسطه به مشورتي کاري ډلي د تړون لیک د معیارونو پر اساسي لازم کار او پرمختګ څاري او کره کوي.

د هم غږي او څارني ګډ هئیت همدارنګه هغه اوسنی پرمختګ ته هم کتنه وکړه چي د افغانستان د تړون لیک او دملي پراختیا د ستراتیژي د معیارونو په باره کي شوي دي. د دغو معیارونو یو شمیر به په راتلونکو دریو ربعو کي د غونډو نیټې وټاکل شي ( د جولاې ۳۰، نوامبر ۵ فبروري ٤، ۲۰۰۷).

---